آصف بهاند

۲۰۱۶/۰۵/۰۲

# د پټې خولې غمونه

داسې چې عمر ژر تیریږي،

ورځ هم تیره شوله

ژیر مازدیګرکې

زه او ته ولاړ وو

په حیرانتیا مو یو او بل ته کتل

او د خیالونو په کښتۍ کې، په کوم لوري روان

د سترګو ژبه کې مې پوه کړلې

او ومې پوښتې:

سیوری دې نه اوږدیږي؟

تا وې: اوږدیږي،ولې؟

په پټه خوله غمجنو سترګو چې مو سیوري ته کتل او کتل

سیوري په خپله اوږدیدل اوږدیدل

زه او ته لرې لرې

او زموږ غمونه

زیاتیدل زیاتیدل

۲۶ ـ ۵ ـ ۱۹۹۲

قزاقستان



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ